# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد	بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم	از آن به که کشور به دشمن دهيم

www.afgazad.com	afgazad@gmail.com

| سياسی | Political |
|---|---|



ليکوال او شنانډ: نظر محمد مطمئن

۲۳ دسمبر ۲۰۱۵

## حراست او ثبات؛ څېرې، کړنې او ژمنې

د طالبانو د حکومت د بهرنيو چارو وزير متوکل صاحب ډير وخت دا خبره کوي چې د مجاهدينو د ډېرو ګوندونو او اختلافونو له کبله وروسته هغوی اتحاد نه کاوو، ځکه هر ځل چې به ګوندونو اتحاد وکړ بيا به اتحاد مات او نوی ګوند به يې وزيږاوو. هر اتحاد به د يوه نوي نفاق لامل شو.

افغانستان ته د امريکايي پوځيانو راتګ، د امريکايي او بريتانوي استخباراتي کړيو پراخ شتون کابل کې هغه پلان ته ډير کار وکړ چې دلته د نفاق اور بل کړي، په سلګونو ګوندونه نوي ايجاد شول ، مګر ځينې داسي سياسي ګوندونه هم پکي پيداشول چې د نفاق له پاره کار کوی، او د بهرنيو هيوادونو له سفارتونو څخه يې د خپلو فعاليتونو ترلاسه کولو له پاره پيسي ترلاسه کولي. د نوو رامنځته شوو ګوندونو يو ډيری داسي دی چې په همدې پلازمېنه کابل کې هم لسګونه غړي نه لري!

يو پلان دا هم و چې پخوانيو مجاهدينو مشهور او لوی ګوندونه يا کمزوري او که وتوانيږي له منځه يوسي، ولي زموږ په دوديزه او نالوستي ټولنه کي دا کار د امريکا او بريتانيا له پاره اسانه هم نه وو چې د پخوانيو جهادي ګوندونو ځای دي نوی لېبرال او سيکولر ګوندونه ونيسي.

د طالبانو مشر ملا محمد عمر اخوند خپلو ملګرو ته د يو ځواب پر مهال ډيره ژوره خبره کړي وه، هغه ويلي وو چې «زړې پُرزې چې هر څومره رنګ کړو کار ورڅخه نه اخستل کيږي».

### څنډې ته شوي سياستوال

تيره اوونی د «حراست او ثبات» په نوم د پخوانيو مجاهدينو يوې مجموعې د خپل موجوديت اعلان وکړ، دوی لا هم پر يو ځانګړي مشرتابه نه دي سلا شوي، مګر استاد سياف ته د سياسي موخو لاسته راوړنې له کبله اوس مهال درناوی کوي ځکه دی تر ټولو ژبور او زړور غړی دی. د دې مجموعې مهم غړي عبدالهادي ارغنديوال د کابل د اسلامي حزب مشر، محمد يونس قانوني د پخواني ولسمشر مرستيال او پخوانی د ولسي جرګې مشر، بسم الله محمدي پخوانی د دفاع وزير، اسماعيل خان پخوانی د اوبو او انرژی وزير، عبدالرؤوف ابراهيمي د ولسي جرګې مشر، فضل هادي مسلم يار د مشرانو جرګې مشر، محمد عمر داودزی پخوانی د کورنيو چارو وزير او صادق مدبر د کرزي د وخت لوړپوړي چاروای.

په پېل کې د استاد سیاف پرته دې نورو ټولو هڅه کوله چې کرزی وهڅوي او د غني د حکومت مقابل کې اپوزیسون اعلان کړي، مګر د کرزي مشوره ورته دا وه چې استاد سیاف د دوی مشري وکړي، تر ډېره دوی په ګډه له کرزي سره دغه پروسه مخکې وړله، او د کرزي غوښتنه دا وه چې راتلونکې کې په ګډه سره د دودیزې لویې جرګې له پاره کار وکړي، او کله چې دغه جرګه دایره شي، د حکومت د مشرتابه له پاره نوی کس ونوموي.

کله چې د کندز ښار طالبانو تر خپل کنټرول لاندی راوستی، پورته یادو کسانو د کرزي پرته د غني سره لیدنې کتنې وکړې او له غني څخه یې په حکومت کې په امنیتي برخو کې د څوکیو غوښتنه وکړه، دا چې دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او امنیت ریاست کې به غوښنه ونډه دوی ته ورکوي، دا ډول د امنیت شورا کې به دوی ته ونډه ورکول کیږي، له دې سره سره د سولې شورا به هم دوی ته سپارل کیږي.

## غني کرزی مات کړ

غني چې له سیاسي لوبغاړو سره د لوبې کولو اړوند ځیرک سلاکاران لري، لومړی هڅه یې دا وه چې د مجاهدینو په نوم مخکې له دې چې د کرزي پلان کامیاب شي، د مجاهدینو اتو ګوندونو د حکومت د اصلاح او ملاتړ په موخه غونډه وکړه، چې استاد سیاف او ملګرو ته یې درنه ضربه ورکړه، بیاځل یې د کرزي او د هغه د یادي ډلې ترمنځ درز پیداکړ. له دې سره سره یې هڅه کوله چې د استاد سیاف او شمال ټلوالي د غړو تر منځ درز پیدا کړي، هم هغه وو چې یونس قانوني ته د غني له خوا د سولې شورا د ریاست وړاندیز وشو، قانوني هم هوکړه وکړه، خو ویل کیږي چې دوه لاملونه وو چې یونس قانوني بیرته په شا شو:

**لومړی:** یونس قانوني غوښتنه کوله چې که د سولې شورا ریاست ورته سپارل کیږي پوره واک او صلاحیت به لري، او نور چارواکي به پکې مداخله نه کوي، ډیری کسان په دې نظر دي چې د سولې عملي پروسه اوس مهال د امنیت شورا له خوا په مخ وړل کیږي او د سولې شورا یواځې د سمبول په توګه ساتل شوې.

**دویم:** یونس قانوني ته استاد سیاف ویلي وو چې یواځې د سولې شورا ریاست منل سم نه دي، تر څو چې زمونږ ټولې غوښتنې یې نه وي منلې هوکړه مه ورسره کوه، همغه وو چې غني ونه توانیدی چې د استاد سیاف او شمال ټلوالي د کسانو ترمنځ درز راولي.

د حراست او ثبات ډلې داعیه تر ډیره هغه زړه د کرزي داعیه وه، خو بشپړه د کرزي داعیه دوی وړاندی نه کړه، له همدې کبله وو چې د غونډې تر ځایه او پېل پورې لا هم د کرزي ملګري له دوی سره وو، او د کرزي د ملګرو غوښتنه داوه چې لنډمهاله حکومت او یا نوی مشر د ټاکلو له پاره دوی ږغ وکړي، کله چې استاد سیاف او ملګرو یې داکار ونه کړ، نو د کرزي ځینې ملګري له غونډې ووتل، اوس نو کرزی له دوی سره ملګری نه دی، ممکن ډیر تأثیر به ونه لري، ځکه دوی خپل اعتبار په بېلابېلو وختونو کې له لاسه ورکړي دی.

## له تاپې حراس؟!

ځینې سؤالونه لا هم د ولس په ذهن کې ګرځي، دا چې دوی د مجاهدینو نوم کاروي، آیا لا هم دوی مجاهدین پاتې دي؟ د مجاهدینو ټولې ډلې ورسره دي که نه؟ د همدې جلسو له پاره مصارف به یې له کومه کړي وي؟ پخوا وخت ته په کتلو سره دوی له خپل ځانه مصارف نه کوي.

دغه ډول د دوی له پاره مصارفو ته اړتیا ده، که بیا ځل روسیي، هند او یا ایران ته لاس اوږد کړي، د جګړې او ستونزو د دوام په معنی به وي.

دا چي د ټاپي پروژې د پرانیستي د خبرو سره هممهاله دوی شتون اعلانوي او ګوت ښدېنه کوي، سؤالونه پیدا کوي، ځکه لا هم په سیمه کي ځیني هیوادونه او کړی د ټاپي پروژې د مخنیوي له پاره هڅي کوي. یو له هغو هېوادونو چي له پیله د افغانستان له لارې د ترکمنستان د ګازو له لېږد څخه خوښ نه و ایران و. ایران غوښتل چي دا ګاز د افغانستان پر ځای د ایران له لارې جنوبي اسیا ته ولېږدول شي. خو هغه لاره اوږده وه او د افغانستان لار له نېکه مرغه لنډه وه. دا احتمال هم نه شي رد کېدای چي د ټاپي له پیل او تود هرکلي سره دې ایران د دغسي یو نوی سیاسي بهیر تر شا په لنډ وخت کي ودریږي، ځکه ایران غوښتل چي د ټاپي پروژه د ایران له خاوري تیره شي.
دوی د ملي وحدت خبره هم کوله، ملي وحدت باید په هره برخه کي وي، مګر دوی خو یواځي پخواني مجاهدین دي، د نورو ډلو او نظریو خلک ورسره نه لیدل کیدل.

## لړزانده ایتلافونه

خلک لا هم داړه نه دي چي دغه ډله به تر کوم وخت پوري یوځای سره پاتي شي، ځکه تیر دوه ځله د ولسي جرګي پر مشرتابه باندی د استاد سیاف او یونس قانوني ترمنځ رقابت هغه څه دي چي یونس قانوني د استاد سیاف مشرتوب ونه منی، او دوېم ځل بیا خبره دیته ورسېده که قانوني منلي وای نو استاد به د ولسي جرګي مشر وای، د دوی د اختلاف له کبله ابراهیمي د ولسي جرګي مشر شو.
زمونږ یو ډیر ښه دوست کله ناکله وایي چي استاد سیاف چي د استاد رباني او احمدشاه مسعود سره د کابل په جګړو کي یوځای پاتي شو، یو لامل یي دا وو چي استاد فکر کاوو چي د رباني څخه وروسته به ولسمشر شي، او احمد شاه مسعود کومه ورځ ورته ویلي وو چي تاسي زمونږ راتلونکی مشر یاست.
ډیر لنډ مخکي که د ډاکټر عبدالله وفا له استاد محترم سره وګورو، نو د یوه وزارت له پاره یي هم د هغه غوښتنه ونه منله او د پوهني وزارت یي د استاد سیاف له ډیر اصرار سره سره ورنه کړ چي استاد خپل کس ورته معرفي کړي.
دا پوښتنه هم ده چي له ۴۰ زیات کلونه کیږي چي دوی په بېلابېلو وختونو کي د ډلو او دولتونو مخالفتونه کړي مګر تر نن ورځ پوري یي هر مخالفت او هره هڅه بي نتیجې ده.
سمه ده چي د ښاغلی حکمتیار په مشرۍ اسلامي حزب په تیرو ۱۴ کلونو کي له کابل څخه بهر وو، خو د اسلامي حزب ډیری غړي په کابل کي د ایتلافونو غړي، او لا هم دي، مګر مخکي وختونو کي ښاغلي حکمتیار او دوی په ګډه د ایتلافونو غړي او ماتونکي وو.
مهمه داده چي په تېرو لسیزو کي، په ځانګړي توګه په تېره یوه نیمه لسیزه کي، دا ټول ایتلافونه تر غټو غټو نومونو لاندي جوړ شوي دي، خو پایښت یي تر ټولو غټ چلنج وو. یعني یو داسي ایتلاف هم په تېرو څوارلسو کلونو کي نه لرو چي دوام یي کړی وي، یا یي یو ستر مشترک هدف ته کار کړی وي. د دوستم، محقق او ضیاء مسعود ملي جبهه او د عبد الله ملي ایتلاف یي بېلګي دي. په اوسني ایتلاف کي یو غټ تناقض چي د شلېدلو او پاشلو سبب یي کیدای شي دا دی چي د داوودزي، سیاف او قانوني په څېر کسان پکي راټول شوي دي، چي هر یو یي ځان ته مشر وایي، هر یو یي غواړي نور ور پسي ولاړ شي، هر یو یي غواړي راتلونکی سیاسي رهبر یا رییس جمهور شي. دا ځانځاني او سیاسي نرګسیت د دغه ایتلاف بنسټ لړزانده کوي، او اصلا د وجود فلسفه یي تر سؤال لاندي راولي.
اوس مهال دوی ادعا لري چي حکومت به سم کړي، د دوی له «تجربو» څخه دي کار واخستل شي، همدا نږدې ۱۴ کلونه دوی د حکومت برخه وو، دوی په حکومت کي لوړ پوړي چارواکي وو، د امریکا او ناټو د ۱۵۰۰۰۰ عسکرو او ۳۰۰۰۰۰ قراردادي عسکرو په موجودیت کي دوی امنیت رانه وستلای شو، نو اوس به کومه تمه وشي.

دا چي دوی وايي د دوی له «تجربو» څخه دي کار واخستل شي، په تيرو وختونو کي کومه کاميابه تجربه دوی لري، سمه ده که دوی وايي چي د جګړې تجربه لري نو بيا خو هر ځل دوی جګړه بايللي ده، يواځي د روسانو، خلقيانو او پرچميانو سره د جګړې خبره هغه د ولس جګړه وه.
هر مخالفت چي دوی د کوم شعار لاندی کړی وو، هغسي نه دي پاتي شوې، له پاچا ظاهر سره د دوی مخالفت د هغه د حکومت پر مهال وو، مګر بيا مو وليدل چي هغه ته يي سرې غالی ويړی کړي وي.
متوکل صاحب وايي چي په تاشکند کي د شمال ټلوالي او د هغوی سره د ملګرو قوتونو سره د سولي مذاکرات نهايي شول، په ټولو برخو کي توافق وشو، په وروستي وخت کي ډاکټر عبدالله دا خبره وکړه چي واک به پاچا ظاهر ته سپارل کيږي، کوم چي طالبانو ته د منلو نه وه.
له داوود خان سره د همدوی مخالفت هغه پخوانيو کمونسټانو ته د مرستي له پاره مجبوره کړی وو، که همدوی چي د اخوانيانو په نامه يي سياست کاوه، ورسره د تفاهم لاره خپله کړي وای ممکن پخوانيو کمونسټانو د کودتا چانس نه وای پيداکړی، او همدوی وو چي دهغه نظر خلک يي ووژل چا چي ويل د داوود خان سره دي تفاهم وشي.

## خامي تجربي

همدوی وو چي د پخوانيو خلقيانو او پرچميانو سره يي په لومړيو وختونو کي تر حد زياته دښمني کوله، د خلقي او پرچمي سپين ږيری پلار چي د خلق او پرچم اهداف هم ورته معلوم نه وو دهغه د زوی په جرم يي وواژه، او ځينو پکي خپل ورونه چي د خلقي او پرچمي نظريه يي درلودله په خپلو لاسونو ووژل، مګر بيا مو وليدل چي دوی په کابل کي د پخوانيو خلقيانو او پرچميانو سره يوځای او په يوه ميز يي کار کاوو، د مجاهد وزير سکرټره د کي جي بي پخوانی افغانه کارکوونکي وه او تر ډيره ځيني مجاهدين په فساد کي هم ککړ شول.
د پخوانيو مجاهدينو ۴ کلنه دوره داسي دوره وه چي ولس د نااميدي او مايوسي اخر حد ته رسيدلي وو، هغه وخت کي چي ولسمشر استاد رباني، دفاع وزير احمد شاه مسعود ، د کورنيو چارو وزير يونس قانونی او صدارت د استاد سياف په برخه کي انجنير احمدشاه احمدزي ته رسيدلي وو، په کابل کي د استاد سياف + احمدشاه مسعود جګړې له استاد عبدالعلي مزاري سره د هيچا هيرې نه دي، دا ډول د نظار شورا او اسلامي حزب جګړې هم د خلکو لا په ياد کي ژوندی دي، د دوی د ناسمو کړنو له کبله ووچي بالاخره طالبان راپيدا شول.
له طالبانو سره برعکس د همدوی ځينو يي لومړی د مرستي اعلان وکړ، وروسته يي ورسره خونړۍ جګړې وکړي او بيا چي تر کولابه ورسيدل نو د امريکا د پلي پوځ په توګه دا ځل کابل ته ننوتل، او تر نن ورځي پوري له طالب سره کلکه دښمني پالي.
(سي آی اې په پنجشير) کي چي پښتو ته د ژباړل شوې کتاب نوم يي همدا دی که وکتل شي نو بيا د امريکايانو سره د همدي خلکو ملګرتيا او له دوی څخه د امريکا استفاده ښه تحليل کيدای شي.
د ولس له ځوانانو سره دا پوښتنه هم شته چي تر کومه وخته به دوی د چوکی او واک په ښنه کي وي، او کله به دوی دا کار خپلو ځوانانو ته پريږدي، دا پوښتنه کوي چي دوی په خپلو ګوندونو کي ځوانان نه لري چي نور هغوی د افغانستان د راتلونکي په اړه فکر وکړی، د داوود خان له وخت نه تر اوسه نږدی دوی په خپلو ګوندونو کي ځوانان لري که نه؟ هغه د ځوانانو ځانګه يي څه شوه؟ تر ګوره تګ پوري به دوی نورو ته چانس نه ورکوي؟ او خپله هم څه نه شي کولای.

که اوس هم ملت پوه شي چي دوی د ازادی، استقلال، سولي، امنیت د افغانانو د ښه راتلونکي له پاره کار کوي بیا به یي هم باور پري کړي وای، خو دوی د ولس په وړاندي باور له لاسه ورکړي دی.

د دوی د زور زیاتي، د واک انحصار، ځمکو غصب له امله دا دي په روان کال کي تر ۱۲۰۰۰۰ افغان ځوانان له هیواده اروپا او نورو هیوادونو ته وتښتیدل، که دلته کار وای، که امنیت وی، سوله وای، د هغوی له پاره د کور ځمکه وای، بیا به ولي زموږ دغه ځوانان استعدادونه تښتیدل چي پیغور یي غني ته هم په جرمني کي ورکړل شو.

د دوی هڅي یواځي د قدرت له پاره دي، نه د سولي او امن له پاره او دوی بدبختانه خپلي ګټي په جګړه کي بولي، حال داچي تر دي زیاته ګټه یي په سوله او امن کي ده.

## له طالبانو ویره ...

که همدا کسان له طالب نه ویره لري، چي هغه به دوی په کلي ډول له سیاسي صحني څخه وباسي، نو تر دوی لومړي خو د پخوانیو خلقیانو او پرچمیانو خبره به مهمه وي، دوی بي ځایه ویره لري، فکر کوم طالبان پر دي نظر دي چي داسي یو نظام جوړ شي چي د افغانستان ټول وګړي، سیاسي ګوندونه، قومونه او سمتونه ځان پکي ووینی. که همدا له سیاسي صحني څخه د وتلو ویره له دوی سره وي بیا دي همدا پخوانی مجاهدین ملت ته مراجعه وکړي، هغوی به د دوی او طالب تر منځ منځګړیتوب وکړي، آیا طالب چي افغان او مسلمان دی هغه به ښه وي چي ورسره سوله وشي او که د امریکا او ناټو عسکر چي دوی ورڅخه د خپل سر د ساتني په موخه د هغوی شتون دلته غواړي.

کوم شعار چي دوی ورکوي چي ملي ارزښتونه، ځمکنۍ بشپړتیا، ټولنیز او اقتصادي ثبات، امنیت او سوله غواړو، دا ډول له فساد، بي اتفاقي، تروریزم، اداري فساد، نشیي توکو سره مبارزه کوو، کاملا د دوی عمل د پورته شعار پر عکس دی، او ارغندیوال صاحب خو لا وایي چي په فساد ملوث خلک نه پریږدو او له فساد سره مبارزه کوو، مګر د ده د خپل ډلي کسان د کرزي په تیره دوره اوس د اجرایوي رییس ترڅنګ په فساد کي ککړ دي، او په همدي ورځ یي هم ډیر داسي کسان تر څنګ ناست وو چي د فساد ډیر لوی تورونه لا هم پري شته.

د پای خبره دا ده چي د پخوانیو مجاهدینو عزت او ویاړ په دي کي نغښتی دی چي بهرنیو پوځیانو ته له افغانستان څخه د وتلو لاره هواره او له ټولو مخالفو وسله والو اړخونو سره عملا د سولي پروسي ته ور ودانګي، که دا کار ونه کړي، اوس خو په حکومت کي ځای نه لري، یو وخت به داسي وي چي د همدي بهرنیانو له خوا به هدف وي او بیا به دا فرصت هم ونه لري چي د سولي ږغ اوچت کړي.

***یادداشت:***

*نشر هیچ مطلبی نباید بدان معنا تعبیر گردد، که پورتال"افغانستان آزاد-آزاد افغانستان" صد درصد با آن موافق است. مثلاً در همین مضمون که از بسا جهات راجع به "شورای حراست و ثبات در افغانستان" و آحاد متشکلۀ آن موضعگیری سالمی صورت گرفته است، وقتی از اهداف طالب در آینده سخن به میان می آید، نویسنده گذشتۀ ننگین و جنایتبار آن گروه مزدور و وابسته را نادیده گرفته، به نحوی می خواهد پرده بر تعصبات جنون آمیز مذهبی، زبانی، قومی و نژادیی که محرک عملکرد آنها در جریان حاکمیت خونبار شان بود، بیفکند.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*